AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد

غ.حضرت
۲۰۱۷/۰۹/۲۳

# احساسِ تنگی تنفس در زیر آبشار سنگینِ تاریخ نگاری

## ”نگاهی گذرا به نوشتۀ اخیر جناب اقای باری جهانی"

ما او زما غوندی کم سوادان که هر څومره د شپې یا ورځې، په ویښه یا خوب، نشه یا هوښیاری، سر او پښې سره کش او وغوځوو، اوږدوالی به مو د ګرانو پوهانو او لیکوالانو د قلم څه، چه د قلم د څوکې سره برابر نه وی خو خبره داده چه د سازونو ښکلی ږغونو ته د هر شوقی ځوان یا زوړ تلوسه وی چه د خپل توان او استعداد په اندول نڅا وکړی( البته د ژبی او قلم نڅا) او دا چه نڅا ئې څومره د نورو د پاملرنی وړ ګرځی دومره ورته مهمه نده په ضمن کی هیڅوک د هیچا د اِږدن د برمې د مالکیت د جواز د سلب صلاحیت نلری.
د ښاغلی جهانی صاحب د وروستۍ لیکنی " اعلیحضرت محمد نادر خان" په هکله یوه وړوکې عریضه لرم چه البته چندانی وړوکې هم نده او د څو مهمو ټکو( زما په لنډ فکر) درلوونکې ده.
نعمتونه دوه ډوله دی، مادی او معنوی.
ښکلی موټر، ودان کور، جګه او خامک دوزه مېرمن، ښائسته او صالح مېړه، ښکلی اولادونه، مناسب شغل، ډک جېب او داسی نور، مادی نعمتونه ګڼل کیږی چه د څرنګوالی د توپیر په هکله ئې کوم ځانګړی د نظر اختلاف نه لیدل کیږی.
معنوی نعمتونه او دهغوی د ارزښت او اهمیت درجې، د ډول ډول ټولنو په منځ کی، د ډول ډول تعریف او تعبیر درلوونکې دی، یعنی مثلاً هغه څه چه مثلاً "پدې "ټولنه کی یو معنوی نعمت ګڼل کیږی په "هغه" ټولنه کی کوم خاص ارزښت نلری. په هر حال معنوی نعمتونه زموږ په ټولنه کی د ځانګړی اهمیت درلوونکی دی چه البته په مختلفو زمانی- مکانی ظرفیتونو کی د څېړنی وړ دی، مثلاً په یوه ځانګړې زمان او مکان کی د اولاد نه استونه مکتب ته یو نعمت ګڼل کېدی خو په عین زمان او عین مکان کی د اولاد درس او تعلیم او د امکاناتو موجودیت یو نعمت بلل کېدی، البته دا تریخ حقیقت هم د ویلو وړ دی چه د ځینو مکانی- زمانی شرائطو د حاکمیت تر سیوری لاندی ،هم د مکتب د شاګرد سترګی د ډېری روشنفکرۍ له امله چپکی سوې او هم د مکتب د دښمن سترګی د ناپوهی په دود وځپلی شوې چه دا دواړه حالتونه د "نعمت" د ګڼلو د اصلی مسیر څخه یو انحراف ؤ.د علم او پوهی لاسته راوړنه هغه وخت ښکلی نعمت ګڼل کېدای شی چه موخه یا هدف ئې د وطن او خلګو ربښتنی خدمت او د اصیل فرهنګ خوندی ساتل وی.
بله خبره دا چه د هیلو او افکارو او ارمانونو او انسانی لوړو اهدافو د تحقق په لوی سمندر کی ځینی خلک په بریالی لامبو توانېدلی دی چه خپل هدف ته ورسیږی او یا د دې هدف په نیت په نیمه لیاره کی د ځوانمرګۍ سره مخ شویدی او ځینی خلک بیا فقط د احساساتو او عدم تعمق او عدم تعقل په نازک لونګ کی د مبارزې ستر او ژور سمندر ته ورګډ شویدی چه بده نتیجه ئې هغه څه وه کوم چه تصور ئې نه کېدی، دلته بیا د معنوی نعمت د ځلانده انعکاس رول په نظر کی نیول کیږی، یعنی دا چه هر هغه څوک چه د سمندر پرغاړه او یا حتی ورګډېدو څو شېبې وروسته( البته اوږدو شېبو) د خپل فکری مرام په هکله تجدید نظر او ځان یو فکری- عقیدتی اووښتون ته وسپاری، ډېر امکان لری چه دا اوښتون د نوموړی کس د خلاصون او ژغورنی سبب شی بناً پخپل تفکر او عقیده کی بدلون راوړنه او د وطن او نړیَ عینی سیاسی او ټولنیز حالت ته په غور کتنه چه طبعاً پایله ئې بریالیتوب او یا حداقل د بدمرغیو څخه نجات دی، یو نعمت بلل کیږی چه ددې نعمت د قدر پېژندنه هم دده اخلاقی دنده او هم دده د خواخوږو دوستانو او مخلصو وطندارانو د خوښۍ سبب ده.
و امّا بعد:
یوه مقوله ده چه:
" دغوړُو موجودیت په شیدو کی یو حقیقت دی خو په سترګو نه ښکاری."
البته ددې حقیقت کشف په یوه ډېره ساده فزیکی عملیه د بشر لخوا تر سره شویدی.
د تاریخ په بستر کی، پېښی او واقعیتونه هم یو حقیقت دی خو توپیر ئې د "شیدو" سره پدې کی دی چه که د شلومبو غړکه په هر لاس وشاربل شی او تر شاربلو وروسته هر لاس په ننوځی د هغه لاس ګوتو ته به همهغه ژیړ خالص کوچې په غېږ ورشی کوم چه په غړکه کی موجود وی. خو د " تاریخ" غړکه کوم بل داستان او کوم بل جوړښت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لری، د هر تاریخ لیکونکی لاس ته تر شاربلو وروسته هغه څه ورغلی دی کوم چه د عینِ غږکی ښخه د کوم بل تاریخ لیکونکی د شاربلو وروسته پلاس ورغلی دی خو توپیر ئې فقط! د مځکی او آسمان او سپین او تور په اندازه دی، همدا علت دی چه ځینی وختونه یو څوک د یوې وړوکی او کوچنۍ تاریخی پېښی د مختلفو روایتونو او تفسیرونو په لوستلو د غمزې د حالت سره مخامخ شی پداسی حال کی چه " حقیقت " که څه هم وړوکی وی خو " یو" دی چه د بده مرغه د ځینو مؤرخینو د شخصی سلیقو د اِعمال او اغېزي له کبله د ابهام په وریځو کی پټ شویدی.ددې ادعا ثبوت کوم سخت کار ندی، که د خپلو ښاغلو درنو وروستنی پنځوس شپېته کلونو تاریخ پوهانو لیکنو ته په ځیر پاملرنه وشی هغوی د د ځینو مهمو پېښو د څرنګوالی په هکله یو د بل سره ډېر توپیر لری چه ددې اختلاف لامل همدا ناځرګند او غیر بربنډ دننی سلائق او علائق او فکری تړاوونه دی په ضمن کی دا به د سلیم عقل په وړاندی سپین سترګی او ګوستأخی وی که د هغوی هر یوه تحلیل د یوی مشخصی موضوع په هکله(متناقض دریځ) د منلو وړ وګڼل شی.

د ښاغلی جهانی صاحب د لیکنی( چه زیار ایستنه ئې د ستاینی وړ ده) په هکله زما حقیر نظر دادی چه:

نوموړی لیکنه، یوې ادبی یا شعری ټوټې غوندی، د ډېرو پټو او ښکاره، تېره او پڅو، فکری او قومی او نورو پیغامونو درلوونکې ده چه البته زه ئې ددې پیغامونو د رابرسېره او بربنډولو اجازه ځانته نه ورکوم ،البته پر ځینو مطالبو د رڼا اچونی حق ځانته خوندی بولم چه د عرائضو په لړ کی به وړاندی شی.

امّا د " اعلیحضرت محمد نادر شاه " په هکله:

پدې کی شک نشته چه نادر خان د وروستۍ پېړی په تاریخی بهیر کی د پام وړ ځای لری خو څرنګه چه زموږ وروستۍ تاریخی پېړۍ د حساسیتونو او نازکیو څخه یوه ډکه پېړۍ ده( خصوصاً د امان الله خان د سلطنت نه د نادر خان تر وژلو پوری) نو بناً د نوموړی د سیاسی او ټولنیز او حتی اخلاقی شخصیت کیندنه او څېړنه هم د ځانګړو حساسیتونو او نازکیو څخه خالی نده.

معمولاً د یو سیاسی مشر دوستان او دوښمنان پر څو ډلو وېشل شویدی چه د هر یوه دوستانه یا دښمنانه دریځ د هغه کس د شخصیتی او فکری او عقیدتی دریځ او موقف سره مستقیمه اړیکه لری.مثلاً د امان الله خان دوستان معمولاً دوه ډوله مختلف اشخاص دی ( سپین او تور) او همدارنګه دوښمنان ئې هم د فکری نظره دوې مختلفی ډلی دی (تور او سپین) چه البته دا قاعده د نادرخان په برخه کی هم د تعمیم وړ ده.

د امان الله خان یوه ډله دوستان ( سپین دوستان)په فکری- عاطفی- ملی - خلګی- وطنی ښکلو ارزښتونو سمبال خلګ وه او دی چه البته دا خلګ د ربښتنی درناوی او ناز وړ دی ځکه مینه او وینه ئې د وطن او خلګو د هوسا او آرام او باکرامته ژوندانه د تأمین پخاطر خوځېږی او غونځېږی او همدارنګه په امان الله خان کی ئې ددې درنو ارمانونو د تحقق استعداد او وړتیا لیدله نو ځکه ئې د هغه سره مینه وه او اوس هم مینه ورسره لری.

بله ډله ( تور دوستان)چه هغوی هم امان الله خان ستایه او ستائی هغه کسان وه چه خپل انترناسیونالیستی! مرام چه په حقیقت کی د مسکو د ګټو تأمین ؤ، د امان الله خان په صوری ملاتړ کی لټاوه چه البته ددې کسانو د دیدګاه څېړل تر وخت تېره او غیر ګټوره خبره ده.

د امان الله خان دښمنان هم پر دوو ډلو د وېشلو وړ دی ( تور او سپین). د توری ډلی د دښمنی انګېزه او نیت او هدف ئې تور او مزدورانه او استعماری ؤ لکه د انګرېز او د هغوی د ګوډاګیانو پلید نیت او د سپینی ډلی د دښمنی نیت او انګېزه تقریباً سپینه او د مارکسیستی – روسی د خطرناک احتمالی یا حتمی نفوذ ببره اوتوره پایله او نتیجه او ددې احتمالی ترخې واقعې ځورونکی احساس چه ګواکی د اکتوبر رهبران به د امان الله خان د پاکو او وطن پالونکو احساساتو څخه ناوړه ګټه پورته کړی.د بده مرغه زموږ ټولنه په هغه زمانه کی د ربښتینو روشنفکرانو( چه د روس او انګریز د قدرت د توازن د ایجاد او ددې توازن څخه د خپل هیواد او خلګو په ګټه ګامونه اوچت کړی) د قحطۍ سره مخه وه بناً د ددواړو خواوو یعنی روس او انګرېز مخلصو اندیوالانو هڅه کوله چه د دداسی فضا د حاکمیت مخه ونیسی کومه چه د دواړو قدرتونو د شهوت او شهرت او غضب معقوله او مطلوبه ارضاء او په عین وخت کی یوه سالمه بیطرفانه روحیه پکی احساس شی.

همداسی د نادر خان دوستان او دښمنان هم پر دوو ډلو د ویشلو وړ دی چه البته ددې دواړو ډلو روحی جوړښت د امان الله خان د دوستانو او دښمنانو د روحی جوړښت سره لږ غوندی توپیر لری چه اوس ګړۍ ئې د بیان حوصله نشته.

امّا د جهانی صاحب د لیکنی په هکله یو څو ټکی:

۱-پدې کی شک نشته چه نادر خان په ډېره مېړانه او سرښندنه د سقوی وحشت او بربریت په وړاندی بیساری خدمت تر سره کړیدی چه هیڅکله د هېرېدو ندی خو خبره داده:

که زما کور ته د کلی د کوم ارباب لخوا لمسون شوی او استخدام شوی غل را ولېږل شی ما او زما کورنۍ لوټ او تالا کړی او د اولادونو راتلونکې تعلیمی سرنوشت می د خطر سره مخامخ کړی، پدې وخت کی یو ځوان چه ځان د کلی خواخوږی بولی په مېړانه ددې غله په وړاندی وسله واله مبارزه پیل او ما د هغه د شر څخه وژغوری، زه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او زما کورنی به تر اوښکو پاکولو او آرام تنفس او د ژغورنکی بهاتور ځوان څخه یوه نړۍ تشکراتو او مننو وروسته آیا ددې حق ونلرو چه پوه شو چه دا غل د چا له خوا او په څه هدف زما د کور له دیوالونو څخه را پورته سوی او زه او کورنی ئې اته نه میاشتی د یوې کښتی ښېری او وحشت سره مخامخ کړی ؤ؟ البته د ژغورنی خوږه خاطره به زما ددې تفحص او تشبث( چه غل څوک او چا لمسولی ؤ) هیڅ ډول زیان ونه وینی.

۲-آیا سلیم عقل ته دا د منلو وړ ده چه یو ارباب د خپل ذاتی خباثت په سیوری کی پیړی پیړی په دومره ورانکاریو ګوتی پوری کړی وی چه حتی د تخریب او ورانی دود او غبار او دوړی او بد بوی ئې همدا نن ورځ زموږ د وروستۍ دوه سوه کلن تاریخ په کوڅه کوڅه کی له ورایه ښکاری او بیا همدا ارباب په ډېره بیشرمی ږغ پورته کی چه اې خلګو ماته زما اساسی قانون! !! اجازه! نه راکوی چه د یو هیواد په داخلی چارو کی لاس ووهم او یا د هغوی د حکومتونو د تغییر په لټه کی شم.

۳-په نسبی ډول د نادر خان او ظاهر خان او داؤد خان دورانونه ډېر آرام وه او ؤلس د سرو کفنونو د منظرې سره آشنا نه ؤ او یو ډول ګونګ رضائیت حاکم ؤ خو سره لدې د امان الله خان رښتنی او خواخوږی پلویان پدې ډېر ناخوښ وه چه د امان الله خان د سپیڅلی ارمان او هلوځلو او همدارنګه ملی شخصیت درناوی لکه ښنګه چه ښائیدی، نه کېده.
ددې حقیقت څخه په ډېرو لیکنو او بیانونو کی انکار شویدی چه:
"د خپلواکی د لاسته راوړنی ارزښت تر ژغورنی او نجات تر ارزښت ډېر اوچت دی، هر څومره که د نجات او ژغورنی کارنامه هم ډېره د ستاینی وړ ده."

۴- زموږ خلګ لدې دومره تاریخی مسائلو د ډول ډول تحلیلونو سره سره بیا هم پدې سم ندی پوهول شوی چه د پښتون د ستر قوم ،د تاریخی مهم رسالت پدې څوارلس کلن ټولنیز- سیاسی توپان ( د خپلواکی ګټل او د هغې ساتل او د امان الله خان شړل او د نادر خان راوستل) کی څه ډول رول لوبولی دی؟

۵- موږ ته تر اوسه په دقیقه توګه ندی ویل شوی چه زموږ په ټولنیز- سیاسی ډګر کی د روس او انګرېز د طمع او توقع او ښنو غځونی اندازه څومره مکانی- زمانی معیار باید درلودای او نن ئې ولری؟آیا دا زموږ د نن ورځی د روشنفکرانو ملی رسالت ندی چه دواړه قدرتونو ته په نښنه کړی چه د سل کاله مخکی افکار او نیتونه زموږ د هیواد په وړاندی د تجدید نظر آزموینی ته وسپاری؟

۶- دا یو منل شوی اصل دی لکه ښنګه چه د مېړه او ماندینې نزاع او اختلاف د اولادونو پر روزنیز او روحی ځرنګوالی منفی اغیزه اچوی، همدارنګه د یو هیواد د سیاسی رهبرانو په منځ کی د نزاع او دښمنی د اور دود د ؤلس پر سترګو او اعصابو او روحیاتو او ملی روزنی هم ډېره منفی اغیزه اچولای شی.
پدې کی شک نشته چه د ځینو درنو توطئو موجودیت او همدارنګه د امان الله خان ځینی تاکتیکی ستری تېروتنی او اشتباه د هغه د سپیڅلی ارمان د تحقق په لیاره کی یو ستر او حتی ویجاړوونکی خنډ شو خو خبره داده چه:
د ذهنی هندسي د فرضئي په اساس، دا به یو ډېر ستر اخلاقی- ملی ښکلی ګام وای که نادرخان د واک تر اخیستو وروسته امان الله خان ته خالصانه او صادقانه بلنه ورکړې وای چه بیرته خپل وطن ته راستون او په ګډه د هیواد ویجاړی چاری روغی کړی چه دې کار به له یوې خوا د امان الله خان د تورو دوستانو ژاولنه خوله ور پټه کړې او د سپینو دوستانو د خوښی او ولولي او وطن ته د خدمت د اشتیاق او په عین وخت کی د نادر خان د شخصیت د روښانه ځلا لامل ګرځېدلی وای او تر ټولو مهمه دا چه د جاذبې هغه قوه چه ددې درو سیّارو( بریطانیي، روسیې، زموږ هیواد) تر منځ موجوده وه د معقول او مطلوب او عالی ثبات څخه برخمنه وای.
وروستی ځرګندونه:
د نادر خان " غدار بلل" به هغه وخت د زیاتی منلی وړ وای چه د مسکو عقیدتی شاګردانو د یو غدارانه خوځښت په ترځ کی، زموږ د خاوری، فرهنګ،ملی ارزښتونو او حتی سیاسی موجودیت سره لوبی نه وای کړی. بله داچه د امان الله خان او نادر خان د شخصیت د مقائسي قضاوت یوازی او یوازی د ؤلس د وګړی وګړی د صلاحیت په چوکاټ کی د منلو وړ دی.
د بده مرغه سل کاله مخکی ددې اجازه رانکړه شوه چه د سیاسی" استقلال "د نعمت شُکر اداینه وکړو او بیا هم د بده مرغه نن اجازه نه راکول کیږی چه حتی د" نجات او ژغورنی" د حصول هیلی په ځان کی ژوندی وساتو. لکه چه کیسه ختمه شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ